# نایټریټس/ نایټرایټس د څښاک د

غیراورګانک ټیست (کیټ $N_3N_2$ یا کیټ AN یا د ټیسټ یوه غوښتنه)

خپل د څښاک اوبه ټیست کولو دپاره ستاسو څخه مننه. نوره زده کړه وکړئ او خپل د څښاک اوبه ټیسټ کولو په اړه یوه ویډیو وګورئ پر www.healthvermont.gov/water.



## 1. چمتووالی نیسئ

- د فریزر کڅوړه (کڅوړې) دمخه په فریزر کې ږدئ.
- د هغې ورځې په سهار کې بېلګه ترلاسه کړئ چې استوئ يې.
- د اوبو هغه سرچینې ته لاړ شئ چې غواړئ ټیست يې کړئ.
- د اوبو د بېلګې د بوتل د سرپوښ دننه برخه یا خله مه لمس کوئ.
- سړې اوبه له **3 تر 5 دقیقو پورې په لوړ بهیر کې** وبهوئ ترڅو هغه اوبه له منځه یوړل شي چې ستاسو په نلونو کې ناستې وي.
- **د اوبو د بېلګې اخیستلو لپاره** اوبه بېرته **خپل د منځنۍ کچې بهیر ته** راستنې کړئ.



## 2. ترلاسه يې کړئ

- د بېلګې بوتل تر غاړې ډک کړئ او سرپوښ يې ښه کلک کړئ چې اوبه ترې نه څڅېږي.
- **د اوبو د بېلګې اخیستلو مالوماتي فورمه** بشپړ کړئ، د هغې نېټې او وخت په ګډون چې تاسو د اوبو بېلګه اخیستې ده.
- که تاسو په خپلو اوبو کې **د اوبو درملنه کاروئ** (د بېلګې په توګه: د اوبو نرموونکی) نو په فورمه کې يې تشریح کړئ.
- د بېلګې پر بوتل لیبل ولګوئ ترڅو د خپلې اړوند فورمې سره سمون ولري (د بېلګې په توګه: جان سمېت، د پخلنځي لاسولونی).

## 3. بېرته يې ورکړئ

- د **فریزر کڅوړه (کڅوړې)** او د اوبو د بېلګې کلک تړل شوی بوتل په یوه پلاستیکي کڅوړه یا درکړل شوي غیرموصلیتي نل کې کېږدئ.
- دغه پلاستیکي کڅوړه یا غیرموصلیتي نل د لاندې ورکړل شویو سره په یوه بوکسه کې کېږدئ:
  - **د اوبو د بېلګې د اخیستلو معلوماتي فورمه** بشپړ شوې. موږ وړاندیز کوو چې فورمه په یوه بنده پلاستیکي کڅوړه کې کېږدئ چې لونده نه شي.
- د دې لپاره چې ستاسو بېلګه د روغتیا د ریاست لابراتوار ته د ټیست کولو لپاره په **48 ساعتونو** کې ورسول شي، نو یا:
  - **يې لابراتوار ته راوړئ**: 359 South Park Drive, Colchester, Vermont (Monday to Friday, 7:45 a.m.- 4:30 p.m.)
  - **د ولسوالۍ په دفتر کې يې ورکړئ:** درج شوي د پتې او د ورکولو د وختونو سره وګورئ. بېلګې یوازې له **دوشنبې څخه تر پنجشنبې** پورې منل کېږي او د سپارلو ډېرې وختونه د ورځې په نیمه کې دي. ستاسو د اوبو بېلګه باید په همغه ورځ واخیستل شي په کومه ورځ چې سپارل کېږي.
  - **د شپې په USPS:** PO Box 1125, Burlington, VT 05402-1125. **د جمعې یا خالي په ورځ يې د پست له لارې مه لېږئ.**

## په مکرر ډول کېدونکي پوښتنې

### څنګه کولای شم داډ ترلاسه کړم چې زه هغه بېلګه ولېږم چې د ټیست کولو لپاره ورته اړتیا ولري؟

په ځینې وختونو کې مونږ داسي بېلګې ترلاسه کړو چې باید "پر شرایطو برابر" وي، په دې مانا چې د ټیست تولې اړتیاوې نه پوره کوي. دا یو شمېر کارونه دي چې تاسو یې کولی شئ تر څو د څښاک د اوبو د منلو وړ بېلګه واستوئ:

- خپله بېلګه د اوبو د بېلګې په هغه بوتل کې واستوئ چې د لابراتوار له لوري درکړل شوی دی.
- هغه بېلګه مه استوئ چې د کلورین تېز بوی لري - ډېر کلورین کولی شي ټیستونو کې خنډ واچوي.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې **د اوبو د بېلګې اخیستلو مالوماتي فورمه په بشپړه توګه ډکه کړئ.**
- ډاډ ترلاسه کړئ چې بېلګه د اوبو د بېلګې د بوتل له ډکولو څخه **په 48 ساعتونو کې دننه لابراتوار ته ورسېږي**.
- **د فریزر کڅوړې او کولر وکاروئ** ترڅو د خپلو اوبو د بېلګې د تودوخې کچه د 42 درجې فارنهایټ (6° سیلسیس) څخه ټیټه وساتئ ــ سړه خو کنګلېدونکې نه ــ تر هغې چې لابراتوار ته ورسېږي.

### د خپل ټیست د پایلو انتظار کله کولی شم؟

د ټیست پایلې به د بېلګې له ترلاسه کولو څخه وروسته په 7 کاري ورځو کې دروواستول شي.

### پر روغتیا زما د څښاک د اوبو د ککړتیاو د اغېزو په اړه نور مالومات کوم ځای ترلاسه کولی شم؟

د نورو مالوماتو دپاره، او د خپل څښاک اوبه ټیست کولو په اړه د ویډیو کتلو لپاره وګورئ [healthvermont.gov/water](healthvermont.gov/water).